مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۲/۱۰/۰۳

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

یوسلودري اویایمه برخه

د نویو لنډیو د راټولولو، ثبتولو او درنو لوستونکو ته یې د وړاندې کولو په لړ کې داسې هم کېږي چې زه د ځینو ځانګړو مناسبتونو په پار هم لنډۍ را ټولوم او د لنډیو څو برخې هغو مناسبتونه ته ځانګړې کوم لکه اخترونه، نوی کال او یا ځینې طبعي پېښې لکه زلزلې او سیلاوونه.

ځینې ناتارونه چې د انسانانو له لوري رامنځته کېږي، منفي تاثیراتو نه یې د ټولنې اکثریت متاثره کېږي؛ د دې پېښو په مناسبت هم د خلکو تاثر او عکس العملونه د لنډیو په لنډ او ښکلي قالب کې راڅرګندېږي لکه تر شپږم ټولګي پورته د نجونو د ښوونځیو تړل چې په پایله کې خلکو ډېرې لنډۍ تخلیق کړې او خپل تاثرات، خوابدۍ او ویرونه یې د هغو په څېو کې بیان کړل. ما د ښوونځیو د تړل کېدو په پار تخلیق شوو لنډیو ته له هماغه پیل نه ورپام و، تر سلو ډېرې لنډۍ مې راټولې او خپرې کړې چې اوس یې هم د راټولولو لړۍ روانه ده.

د پاسنیو دلایلو پر بنا یو څه موده د عادي نویو لنډیو د خپرولو لړۍ وځنډېده، دا دی اوس یې بېرته پیل کوم. په دې برخې کې به دا لاندې نوې لنډۍ درنو لوستونکو ته وړاندې شي:

لالیه مخکې شه لار ګوره
زما لیدلې لارې ټولې ړنګې دینه

د کلي ټولې حجرې تشې
وورکې په شلو هېوادو اوښتې دینه

اسمانه کړنګ وهه رالوېږه
چې ډلې، ډلې جاهلان در لاندې شینه

وطـن مې مور زه یې بچی یـم
اوس به په سرو سترګو د مور له غېږې ځمه

نظر مې پورته په اسمان و
لار ته مې نه کتل په اور کې ولوېدمه

د تسلۍ راسره څوک دي
یو دېوالګی دی بله زه ورناسته یمه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په جینۍ سره او سپین هم کم دي
پلار لېونی یې په کلدارو خرڅوینه

که چیرته کېږی ببرته راشه
قسم دی یاره ځمکه ځای نه راکوینه

په زړهٔ مې داسې زخم جوړ دی
نه مې دارو شته نه مې کېږي علاجونه

ژونده د سرو سکروټو بار یې
په کاغذي اوږو دې وړم ایرې دې کړمه

پردی وطن دی ماسختن دی
تیرو یادونو ته سندرې جوړومه

دومره د چا کېسه کې نهٔ یم
چې ګډېوډې چارې کړم زور یې لرمه

پر ما شکمن لالی خبر کړئ
که بل مې یار وي، زه به سره کاپېره یمه

عالمه مهٔ ورته زورپېږئ
سېږنی کال د ببوسۍ دی تېر به شینه

د زړه رضا دې وه چې لاړې
ګنې قران دې پر سر چا نیولی وونه

ښکاره دې نوم اخیستی نه شم
د زړه له درده دې ټپو کې یادومه

ستا په سر بیا پهٔ کور کې جنګ دی
ځان مې کوڼ کړی دی، انګړ جارو کومه

قدرت دې شته مکان دې نشته
چې په دربار کې دې په چیغو وژاړمه

د تماشې خلک مې ډېر دي
د تسلی خلک مې خاورو لاندې دینه

بخته د خدای له پاره ویښ شه
څوک تر قیامته پورې نه کوي خوبونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ